❖❖❖

# د افغانستان اسلامي امارت په اړه د روسيې د بهرني سیاست څېړنه

څېړنوال عبدالخالق فردوس*

***لنډیز***

*هېوادونه له نړیوالو بدلېدونکو شرایطو سره سم نه یوازې په خپلو کورنیو پالیسیو او کړنلارو کې، بلکې په بهرنیو پالیسو او د بهرني سیاست په تګلارو کې هم وخت نا وخت بدلونونه راوړي او هڅه کوي چې پر بنسټ یې خپلې ملې ګټې په مطلوبه توګه پیاوړې او ترلاسه کړي. روسیه که څه هم له افغانستان سره ګډه پوله نه لري خو د سیمه‌ییزې جغرافیایي تړلتیا پر اساس د منځنۍ اسیا له لارې له افغانستان سره د ګډو ګټو د پیاوړتیا او ګډو ننګونو د پای ته رسولو شریک فرصتونه لري، او له همدې کبله، افغانستان د بېلابېلو حکومتونو پرمهال د دغه هېواد د بهرني سیاست په دستګاه کې ځانګړی ځای پیدا کړی او په اړه یې بېلابېلې تګلارې تعقیب کړې دي. پر افغانستان د امریکا د متحده ایالاتو د یرغل پرمهال دغه هېواد له نړیوال ایتلاف سره مرسته وکړه، خو د سیمې او افغانستان د شرایطو په بدلون سره یې بېرته د افغانستان پر وړاندې خپله سیاسي تګلاره بدله کړه او کله چې په افغانستان کې اسلامي امارت د دویم ځل لپاره واک ترلاسه کړ، د افغانستان په اړه د دغه هېواد بهرني سیاست هم بدلون وکړ. په دې څېړنه کې دا پوښتنه ځوابېږي چې ولې د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د روسیې بهرني سیاست بدلون وموند؟ او د اسلامي امارت په دوره کې د دغه هېواد بهرنی سیاست کومې موخې تعقیبوي؟ دې پوښتنې ته د ځواب موندلو په موخه څېړنه د تحلیلي ـ توصیفي مېتود پر اساس ترسره شوې چې پکې د افغانستان په اړه د دغه هېواد د مهمو رهبرانو څرګندونې او د اخبارونو او معتبرو مقالو متنونه تحلیل شوي. د څېړنې موندنې ښیي چې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د شتون په پرتله اوسمهال روسیه د ترهګرۍ، مخدره توکو د قاچاق او مرکزي اسیا ته د نا امنۍ د لېږد په برخه کې د لا زیات خوندیتوب احساس کوي؛ نو ځکه یې د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې خپل بهرنی سیاست هم نرم کړی او ورځ تر بلې ورسره د تعامل کچه پراخوي.*

***کلیدي ټکي:*** *بهرنی سیاست، روسیه، اسلامي امارت، سیمه‌ییز ثبات، امنیتي ننګونې، سیمه‌ییز اتصال او همکاري.*

---

* څېړنوال عبدالخالق فردوس د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ټولنیزو علومو مرکز د حقوقو او سیاسي علومو انسټیټوټ د علمي کادر غړی دی او د حقوقو او سیاسي علومو په برخه کې یې د ماسترۍ تر کچې زده‌کړې کړې دي.

**سریزه**

په افغانستان کې د سولې، ثبات او یوه قوي او مرکزي نظام شتون نه یوازې د افغانانو لپاره خورا ارزښت لري، بلکې د سیمه‌ییز امنیت، د سیمې له هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا او جیوپولېټیکي معادلو په برخه کې هم مهم رول لوبوي. له افغانستان سره د روسیې جغرافیایي نږدېوالی، له مرکزي اسیا سره د افغانستان ګډه پوله او په ځانګړې توګه تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان سره د افغانستان، قومي، ژبني دیني او فرهنګي مشترکات د دې لامل شوي چې افغانستان د روسیې په سیاسي، اقتصادي او امنیتي پالیسیو کې ځانګړی ځای پیدا کړي. په دې توګه ویلی شو چې د افغانستان پر وړاندې د دغه هېواد بهرنی سیاست په امنیتي، جیوپولېټیکي او اقتصادي موخو راڅرخي. د همدغو موخو د ترلاسه کولو لپاره دغه هېواد په افغانستان کې د اسلامي امارت د لومړی واکمنۍ د پای ته رسولو لپاره د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ نړیوال ایتلاف سره یوځای شوه؛ خو وروسته بیا ورو ورو روسیې خپل سیاست بدل کړ، بلکې کله چې له دغې شل کلنې جګړې وروسته اسلامي امارت بیاځلې واک ته ورسېد، نو روسیه چې د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یوځل بیا هڅه کوي د یوه ستر ځواک په توګه خپل سیاسي، اقتصادي او امنیتي نفوذ پراخ کړي، اړه شوه چې د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې خپل بهرنی سیاست تغیر کړي او له اسلامي امارت سره د تماس او تعامل لاره خپل کړي.

پوښتنه دا ده، چې روسیې ولې له اسلامي امارت سره د تعامل لاره غوره کړې؟ د دې پوښتنې له ځوابولو سرهدهغه محرکات را برسېره کېږي چې د افغانستان اسلامي امارت په اړه د روسیې د بهرني سیاست په بیا تعریفولو کې مهم رول لري. د مقالې موخه دا ده چې د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د روسیې د بهرني سیاست د نرمښت لاملونه او له اسلامي امارت سره د ښکیلتیا هڅوونکي فکتورونه روښانه او وڅېړل شي. مقاله د څېړنې د تحلیلي ـ توصیفي مېتود له مخې لیکل شوې او معلومات یې د کتابتوني تګلارې په مرسته راټول شوي دي.

د جوړښت له مخې، لومړی د افغانستان اسلامي امارت په اړه د روسيې د بهرني سياست تاريخي شاليد بيان شوی، ورپسې له اسلامي امارت سره د روسيې د تماسونو پيل او د دغه هېواد د بهرني سياست پر تدريجي بدلون رڼا اچول شوې، په درېيم قدم کې د اسلامي امارت په اړه د روسيې د بهرني سياست محرکات په امنيتي، د سوداګرۍ او انرژۍ لېږد، مخدره توکو او ستراتېژيکې محاسبې فکتورونو کې څېړل شوي او پر پايله او وړانديزونو سره پای ته رسېږي.

**د اسلامي امارت په اړه د روسيې د بهرني سياست تاريخي شاليد**

روسيې د ا فغانستان اسلامي امارت په اړه په بېلابېلو وختونو کې د خپلو ټاکلو موخو د ترلاسه کولو لپاره بېلابېلې تګلارې کارولې دي. په افغانستان کې د شوروي اتحاد له نظامي ماتې وروسته، د کورنۍ جګړې پرمهال دغه هېواد په افغانستان کې د شمالي ټلوالې نظامي ملاتړ کاوه او کله چې اسلامي امارت په ۱۹۹۶ز.کال کې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې واک ترلاسه کړ، بيا هم دغه هېواد د اسلامي امارت پر وړاندې د شمالي ټلوالې ملاتړ ته دوام ورکړ (Diana, 2021, p3).

هغه مهال د روسيې په سياسي بهيرونو کې داسې ليدلوری ليدل کېده، چې روسيه نه شي کولای د افغانستان پر حالاتو اغېز وکړي. د دوی نظر دا و، چې په دغه هېواد کې قومي او داخلي مخالفتونه داسې حالت ته رسېدلي، چې نور نو د واحد افغانستان پاتې کېدل ناشوني ښکاري؛ له همدې امله روسيه بايد د افغانستان له شمالي ولايتونو سره خپلې اړيکې پراخې کړي، او که چېرې د قومي مخالفتونو پر اساس افغانستان تجزيه کېږي؛ نو د شمالي او جنوبي وېش ملاتړ د وشي او په شمال کې دې د بفر يا حايل په شکل د يوې بې خطره ساحې له رامنځته کولو سره مرسته وشي. (فردوس، ۱۴۰۲، ۱۵۹ مخ)

کله چې په ۲۰۰۱ز.کال کې د امريکا متحده ايالاتو پر افغانستان نظامي يرغل وکړ؛ دغه هېواد د اسلامي امارت پر وړاندې خپله تګلاره او بهرنی سياست له لوېديځو هېوادونو

سره په همغږۍ متمرکز کړ او د امریکا د متحده ایالاتو د یرغل ملاتړ یې وکړ، ان تر دې چې د خپلې خاورې او فضا د کارولو فرصت یې ورته برابر کړ. له اسلامي امارت څخه د روسیې د وېرې کچه دومره زیاته وه چې په قرغیزستان او ازبکستان کې یې د امریکا له پوځي اډو جوړولو سره هم موافقه وکړه (Ali Akbar, 2021). په دې توګه روسیې په افغانستان کې د حامدکرزي په مشرۍ د امریکا او نړیوال ایتلاف په مرسته رامنځته شوي حاکم نظام سره په بېلابېلو برخو کې مرستې او همکارۍ پیل کړې او هم یې په ۲۰۰۳ز.کال کې طالبان د ترهګریزو سازمانونو په لېست کې شامل کړل، چې د روسیې د قوانینو له مخې هر ډول اړیکه ورسره جرم ګڼل کېده (Muhhamd Murad,2025).

دغه سیاست د هغو سیاسي بهیرونو له نظریې سره سم پلی شو، چې وایي (د افغانستان غمیزه دې پردۍ وګڼل شي؛ د افغانستان په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې ترڅنګ دې له دغه هېواد سره بشري مرستې او په سمبولیکه توګه اقتصادي مرستې وشي؛ روسیې ته په کار ده چې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شتون تایید کړي). (فردوس، ۱۴۰۲، ۱۵۹ او ۱٦۰ مخونه).

د امریکا په مشرۍ له لوېدیځ اتحاد او په افغانستان کې حاکم نظام سره دغو همکاریو نه یوازې دا چې په افغانستان کې د اسلامي امارت وسلهواله مبارزه کمزورې نه کړه، بلکې د وخت په تېرېدو سره یې د افغانستان ډېره برخه خاوره بېرته تر خپل کنټرول لاندې راوستله؛ او له همدې کبله د افغانستان پر وړاندې د روسیې د بهرنۍ پالیسۍ نوې مرحله پیل شوه. دا مرحله د افغانستان په اړه د هغه سیاسي لیدلوري پیروي کوي چې وایي د روسیې ګټې یوازې په ازاد، خپلواک او واحد افغانستان کې نغښتې دي؛ افغانستان باید د ډیورنډ کرښې شخړه نامعلومې راتلونکې ته پرېږدي؛ اوس یوازې پیاوړی افغاني دولت کولای شي د نشهیي توکو پرضد مبارزې، اقتصادي سیستم پیاوړي کولو او خپلمنځي ستونزو څخه راووځي او د سیمې د سازمان شویو جنایتکارانو او ډلو ټپلو پر وړاندې مبارزه وکړي او هم په دایمي ډول په خپله خاوره کې د بهرنیو اډو د شتون مخنیوی وکړي. یوازې

واحد، خپلواک او پیاوړی مرکزي دولت کولای شي چې نه یوازې په خپله خاوره کې، بلکې د ګاونډیو هېوادونو لپاره هم د سولې او امنیت د ټینګېدو شرایط برابر کړي (فردوس، ۱۴۰۲، ۱۶۰ مخ).

روسانو په افغانستان کې د اسلامي امارت د لومړۍ دورې پرمهال له اسلامي امارت څخه ځکه وېره لرله، چې له یوې خوا دوی فکر کاوه په افغانستان کې ځواکمن اسلامي نظام به په مرکزي اسیا او قفقاز سیمه کې اسلامي ډلې پیاوړې کړي او د روسیې ملي امنیت ته به ګواښ پېښ کړي او له بلې خوا به د نشه‌يي توکو د کرکیلې او له افغانستان څخه دغه هېواد ته د قاچاق له اړخه هم زیانمن شي؛ نو ځکه یې د لویدیځ هېوادونو له پالیسو ملاتړ وکړ. د ځینو نورو عواملو ترڅنګ، له دغې پالیسۍ څخه د مطلوبې پایلې نه ترلاسه کولو له کبله یې خپل سیاست له یوه داسې افغان حکومت څخه ملاتړ ته واړاوه، چې په خپل وجود کې بهرنیان ونه زغمي او یو خپلواک نظام رامنځته کړي. روسان دغه وړتیا د اسلامي امارت په واکمنۍ کې ویني او له همدې کبله دا مهال له اسلامي امارت سره د تعامل پراختیا ته لېواله دي.

**د اسلامي امارت په اړه د روسیې د بهرني سیاست تدریجي بدلون**

کله چې په افغانستان کې امنیتي ننګونې زیاتې شوې او دغلته د داعش ډله رامنځته شوه، په ورته وخت کې اسلامي امارت د هېواد ډېره برخه خاوره تر خپل حاکمیت لاندې راوستله او د نشه‌يي توکو کښت او تولید هم کال په کال زیاتېده چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۲۰۰۱ز.کال وړاندې دورې په پرتله څلور چنده زیات شو. روسان دې پایلې ته ورسېدل چې په افغانستان کې یې نه یوازې دا چې ګټې خوندي نه دي بلکې ورځ تر بلې ورته ګواښونه زیاتېږي او له همدې امله یې له اسلامي امارت سره اړیکې پیل کړې. د افغانستان لپاره د دغه هېواد ځانګړي استازي په ۲۰۱۵ز.کال کې تایید کړه، چې له اسلامي امارت سره یې اړیکې لرلې دي او د دوی ترمنځ استخباراتي تبادله شوې ده (Ali Akbar, 2021).

هغه مهال چې له اسلامي امارت سره د روسیې اړیکې او همکارۍ د دغه هېواد له لوري په علني توگه اعلان شوې، له اوکراین سره یې کړکیچ جدي شوی و او کریمیا یې له روسیې سره ضمیمه کړې وه او هم په عراق او سوریه کې داعش پرمختگ وکړ او روسیې د داعش د ځپلو لپاره سوریې ته پوځونه واستول. دا او ځینې نورې پېښې د دې لامل شوې چې د روسیې او لوېدیځو هېوادونو اړیکې ورځ تر بلې ترینگلې شي.

له بله پلوه په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو د ناکامۍ نښې نښانې هم راڅرگندې شوې او له اسلامي امارت سره یې د سولې مذاکرات پیل کړل. دا هم د هغو عواملو له ډلې وو چې د اسلامي امارت په اړه یې د روسیې په بهرني سیاست کې بدلون راوست. د روسیې د بهرني سیاست د چلند بدلون هغه مهال لا روښانه شو کله چې د افغانستان په اړه د دغه هېواد ځانگړي استازي ضمیر کابلوف وویل: «له روسیې سره د طالبانو گټې په بشپړه توگه همغږې دي او طالبانو هم منلې، چې داعش او ابوبکر البغدادي په رسمیت نه پیژني او دا موضوع ډېره مهمه ده». د هغه په وینا، زموږ او طالبانو ترمنځ د اړیکو چینلونه موجود دي (Ali Akbar, 2021).

د ۲۰۲۱ز.کال په جولای میاشت کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر وویل: «طالبان د سلیم عقل او منطق لرونکې پیاوړې ډله ده» (Claudia Chia, 2021). د افغانستان لپاره د دغه هېواد ځانگړي استازي ضمیر کابلوف هم وویل: «طالبان په افغانستان کې د هغو خلکو پر وړاندې جنگیږي چې موږ ورسره سوریه کې جنگېدلو؛ له همدې کبله زموږ گټې همغږې دي» (Rise to Pece,2021). د دې ترڅنگ د ۲۰۲۴ز.کال د مې میاشتې په ۲۸مه د روسیې د ملي امنیت شورا مرستیال دېمیتري مدویدوف وویل: «د ۲۱مې پېړۍ په پیل کې مو طالبان ترهگر گڼل، او امریکایان مو شریکان وو، اوس دا خبره برعکس ده». په همدې ورځ بیا ولسمشر پوتین چې تاشکند ته په سفر تللی و، له تاس خبري آژانس سره په یوه مرکه کې وویل: «په افغانستان کې ستونزې شته، ټول پوهېږي، خو باید په یو ډول له اوسني حکومت سره اړیکې جوړې شي، ځکه دوی پر دغه هېواد کنټرول لري».

په دې توګه، د روسي چارواکو وخت نا وخت څرګندونو د اسلامي امارت پر وړاندې د دغه هېواد د بهرني سیاست تدریجي بدلون او له اسلامي امارت سره رغنده تعامل ته داخلېدو ښودنه کړې او مسکو ورو ورو په دې قانع شو چې په افغانستان کې اسلامي امارت له افغانستان څخه بهر هیلې نه لري؛ حال دا چې داعش د سیمې او نړۍ امنیت ته ګواښ دی. روسیه باور لري چې اسلامي امارت د داعش پر وړاندې اغېزناکه مبارزه کولای شي؛ نو ځکه روسیه د اسلامي امارت ملاتړ منطقي ګڼي. همدا لامل و، چې روسیې د خپلو امنیتي او جیوپولېټیکي اندېښنو د رفع کولو په موخه خپل پخواني تصور ته بدلون ورکړ او له اسلامي امارت سره یې اړیکې پیاوړې کړې.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۲۵ کال د اپریل میاشتې په ۱۷مه د یوې اعلامیې په خپرولو سره اعلان وکړ، چې د روسیې سترې محکمې اسلامي امارت د ممنوعه سازمانونو له لېسته بهر کړ (MoFA Russia, 2025). د دې پرېکړې پر اساس روسیې له اسلامي امارت سره د اړیکو د پیاوړتیا قانوني لار پرانېسته او په دې برخه کې یې موجود خنډونه چې د دواړو هېوادونو د اړیکو د پیاوړتیا په برخه کې پراته وو، له منځه یوړل. دا پرمختګونه کابو دوې لسیزې وروسته له هغه رامنځته شول چې له ۲۰۰۳ کال راهیسې اسلامي امارت د روسیې له لوري د ترهګریزو سازمانونو په لېست کې شامل و او له کبله یې له اسلامي امارت سره هر ډول تعاملات د روسیې د قوانینو پر اساس غیر قانوني ګڼل کېدل.

## د اسلامي امارت په اړه د روسیې د بهرني سیاست محرکات[1]

روسیه له اسلامي امارت سره د ښکیلتیا پر اساس لنډمهالې (تاکتیکي) او اوږدمهالې (ستراتېژیکې) موخې تعقیبوي؛ ځکه اسلامي امارت اوسمهال پر افغانستان مسلط او واکمن ځواک ګڼل کېږي. دا چې ولې دغه هېواد هڅېدلی چې له اسلامي امارت سره

[1] Motivations

پیاوړې اړیکې رامنځته کړي او د بهرني سیاست په اډانه کې ورته ځای ورکړي لاندې بېلابېل فکتورونه د یادوولو وړ دي:

**الف: د امنیت او ثبات فکتور:** د افغانستان په اړه د روسیې د بهرني سیاست یو اساسي محرک او هڅوونکی فکتور د افغانستان له شمالي پولو سره د مرکزي اسیا هېوادونو (تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان او قرغیزستان) امنیت او ثبات ساتل دي. کله چې په افغانستان نا امني رامنځته کېږي؛ نو پر دغه سیمه په ځانګړې توکه د دې سیمې پر امنیت منفي اغېزې ښندي او له امله یې دغې سیمې ته نا امني، ترهګري، سازمان شوي جرمونه، کډوالي او نشه‌يي توکي لېږدول کېږي. دغه چاره ځکه په اسانه توګه ترسره کېږي چې له یوې خوا د دواړو (افغانستان او مرکزي اسیا هېوادونو) ترمنځ ژبني، قومي او دیني مشترکات شته او له بلې خوا د ښکیلو اړخونو ترمنځ پولې هم د نننۍ عصري تکنالوژۍ لرونکو وسایلو په مرسته نه کنټرولېږي.

د افغانستان لپاره د دغه هېواد ځانګړي استازي ضمیر کابلوف څرګنده کړې چې روسیه لېواله ده له اسلامي امارت سره د داعش پر وړاندې مبارزه کې مرسته وکړي. نوموړي داعش د مسکو او کابل ګډ دښمن بللی دی (Reuters, 2025). د داعش پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د روسیې لېوالیتا هغه مهال لا زیاته شوه کله چې دې ډلې په روسیه کې پر یوه کانسرټ ډله‌ییز برید وکړ او د دغه هېواد ۱۳۹ تنه وګړي یې ووژل (CNN, 2024). روسیه فکر کوي چې افراطي او سخت دریځې ډلې به د دغه هېواد د شمالي قفقاز سیمو او د مرکزي اسیا په ځانګړې توګه د دې سیمې د فراغانه دره چې قرغیزسان، تاجکستان او ازبکستان ترمنځ پرته ده؛ له اوسېدونکو سره اړیکې ټینګې کړي او د دغه هېواد ملي امنیت به وګواښي. په ځانګړې توګه دغه هېواد داعش ډله د مرکزي اسیا د امنیت لپاره ګواښ ګڼي او ویل کېږي چې دې ډلې له روسیې او مرکزي اسیا څخه تر ۵۰۰۰ ډېر کسان جذب کړي دي (Rajorshi Roy, 2021). سربېره پر دې، له ۲۰۱۴ ز.کال راهیسې، د یوریشیا هېوادونو د تابعیت لرونکو بهرنیو جنګیالیو شمېر چې د سوریې

او عراق وسله‌والو ډلو سره یو ځای شوي، زیات شوی او دا اندېښنې راپورته کوي چې هلته جګړه پای ته رسېدلې او کیدای شي هغوی بېرته خپلو هېوادونو ته راستانه شي او په دغو هېوادونو کې او یا دا چې د دغو هېوادونو له خاورې څخه په ګټه اخیستنه نورو هېوادونو په ځانګړې توګه په روسیه کې بریدونه ترسره کړي. د روسیې ولسمشر ولادیمیر پوتین هم څرګنده کړې چې ممکن وسله‌وال د کډوالو په بڼه ځانونه پټ کړي او له کابله ګاونډیو هېوادونو ته واوړي (Claudia Chia, Zheng Haigi, 2021). روسیه فکر کوي چې اسلامي امارت د داعش د پیاوړتیا لپاره جدي خنډ ګرځېدلی شي؛ ځکه چې د اسلامي امارت تمرکز یوازې پر افغانستان دی او له داعش سره د اسلامي امارت دښمني په خپله ګټه بولي.

د اسلامي امارت هغه ژمنه چې د افغانستان خاوره به د هیڅ یوه هېواد پر وړاندې ونه کارول شي، په مسکو کې مثبت انعکاس رامنځته کړی؛ په تېرو دریو کالونو کې د افغانستان د شمالي پولو د امنیت او ثبات تېنګښت هغه څه دي چې د اسلامي امارت پر وړاندې یې د مسکو بهرنی سیاست نرم کړی او له اسلامي امارت سره یې د ښکیلتیا او رغنده تعامل سرعت لا ګړندی کړی دی. د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف د ۲۰۲۵ کال د مې میاشتې په ۲مه ویلي چې د سفیر تر کچې به په روسیه کې د افغانستان اسلامي امارت ډیپلومات ومني او له اسلامي امارت سره به د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې مرسته او همکاري وکړي (Reuters, 2025). له دغو څرګندونو له ورایه ښکاري چې روسیې اسلامي امارت د یوه واقعیت په توګه منلی او د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې یې پرې پوره باور او اعتماد کړی دی. د روسیې د بهرني سیاست دغه نرمښت د دغه هېواد په سیمه‌ییزو شریکانو په ځانګړې توګه پر هند چې د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې یې له روسیې سره په ګډه د اسلامي امارت د مخالفینو ملاتړ کاوه؛ هم مثبتې اغېزې کوي او دغه هېواد هڅوي چې د اسلامي امارت پر

وړاندې خپل بهرنی سیاست نرم او ورسره خپل تعاملات زیات کړي. یوه بله اړینه خبره چې دلته یې روښانتیا لازمه ده دا ده چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته او افغانستان کې واک ته د اسلامي امارت له رسېدو سره سم؛ د روسیې اندېښنې دا نه وې چې په افغانستان کې د اسلامي امارت رامنځته کېدل به د دغه هېواد یا د دغه هېواد د نږدې شریکانو امنیت وګواښي؛ بلکې هغه مهال روسیه پر دې اندېښمنه وه چې ایا اسلامي امارت به د دې توان ولري چې په خپل هېواد کې عمومي نظم قایم او حکومتي دستګاوې او ادارې فعالې وساتي؟! دغه هېواد له دې هم اندېښنه نه لرله چې له اسلامي امارت سره به څه ډول چلند وکړي؛ بلکې له دې اړخه اندېښمن وو چې په افغانستان کې به مرکزي حکومت ټینګ نه شي او نورو لویو بې‌ثباتیو ته به لاره هواره کړي او دغه بې‌ثباتۍ به د دغه هېواد له پولو واوړي او مرکزي اسیا ته به ګواښ پېښ کړي. د دغه هېواد اندېښنې په افغانستان کې له بهرنیو ځواکونو څخه پاتې شویو وسلو لا زیاتې کړې وې (Ekaterina Stepoanova, 2021). د وخت په تېرېدو سره روسیې ته څرګنده شوه چې اسلامي امارت پر ټول افغانستان بشپړ کنټرول لري او یو مرکزي حکومت یې رامنځته کړی او هیڅ بلې ډلې ته د دې اجازه نه ورکوي چې د افغانستان امنیت ته ګواښ رامنځته کړي او هغه وسلې چې د امریکایي ځواکونو څخه ترلاسه شوې هم په پوره ډاډ سره د دوی تر واک لاندې دي او هېڅوک یې په خپل سر نه شي کارولی. دغه ډاډ د دې لامل وګرځېد چې اسلامي امارت د روسیې د بهرني سیاست پاملرنه ځانته راواړوي.

**ب: د سوداګرۍ او انرژۍ لېږد فکټور:** د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې د روسیې د بهرني سیاست محرک او هڅوونکي ټکي یوازې امنیت محوره هم نه دي؛ بلکې د سوداګرۍ او سویلي اسیا په ځانګړې توګه هند او پاکستان ته د انرژۍ لېږد هم په‌کې ځانګړی ځای لري.

د دغه هېواد د بهرني سیاست په تګلاره او نظریاتي چوکاټ کې راغلي چې روسیه هڅه کوي یوریشیا (اروپایي-آسیایي لویه وچه) یوه ګډه قاره‌ییزه فضا وګرځوي چې پکې

سوله، ثبات، متقابل باور، پراختیا او هوساینه حاکمه وي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره دغه هېواد له یوې خوا د شانګهای د همکاریو سازمان ظرفیت او رول په هر اړخیزه توګه پیاوړی کوي چې په دغه سیمه کې امنیت خوندي او دوامداره پرمختګ ته وده ورکړي؛ ترڅو د اوسنیو جیوپولېټیکي واقعیتونو پر بنسټ د دغه سازمان فعالیتونه او رول پراخ، ګټور او اغېزناک کړي. له بلې خوا د دې سیمې د هېوادونو ترمنځ لوی یوریشیایي چوکاټ رامنځته کوي او په‌کې اقتصادي او ټرانسپورټي اتصال پیاوړی کوي او سربېره پر دې په افغانستان کې د هر اړخیز سیاسي حل ملاتړ کوي، ترڅو په دغه هېواد کې خپلواک، بې‌پلوه او سوله‌ییز حکومت چې باثباته اقتصاد او سیاسي نظام ولري رامنځته شي چې په کې د ټولو قومونو ګټې خوندي وي او دغه هېواد ته دا فرصت برابر کړي چې د یوریشیا د همکاریو فضا کې شامل شي (MoFA of Russian Federation, 2023).

افغانستان له جغرافیایي اړخه د روسیې او د یوریشیا د نورو هېوادونو ترمنځ پروت دی او د مرکزي اسیا، ایران، چین او پاکستان سره ګډه پوله لري؛ له همدې امله روسیې ته د ټرانسپورټ او انرژۍ د لېږد په برخه کې ارزښت لري. روسیه کولای شي د افغانستان په مرسته د دې سیمې هېوادونه یو له بل سره وصل کړي او خپله انرژي له دې لارې نورو هېوادونو په ځانګړې توګه د جنوبي اسیا هېوادونو ته چې د انرژۍ له کمښت سره مخ دي، صادره کړي؛ دغه چاره هغه مهال ښه ترسره کېدای شي؛ چې په افغانستان کې خپلواک حکومت چې باثباته اقتصاد او سیاسي نظام ولري. داسې ښکاري چې روسیې دغه وړتیاوې د اسلامي امارت د حکومتدارۍ په چوکاټ کې درک کړې؛ نو ځکه یې ورته د بهرني سیاست په چوکاټ کې ځانګړی ځای ورکړی دی.

د سوداګرۍ په برخه کې له یوې خوا افغانستان د روسیې لپاره غوره مارکېټ دی، چې کولای شي د خپل هېواد تېل، ګاز، غنم او نورو توکي ورته صادر کړي. اوسمهال افغانستان ته د روسیې د تجارتي توکو کلنۍ صادراتي کچه ۳۰۰ میلونه ډالرو څخه زیاته ده ( BiBi

Amina, 2024). خو دغه هېواد افغانستان ته د خپلو صادراتو کچه لا نوره زیاتولی شي. له بله پلوه، دا چې د اوکراین د جګړې له امله روسیه د لویدیځو هېوادونو تر بندیزونو لاندې ده؛ نو هڅه کوي چې خپلې سوداګریزې اړیکې له اسیا او نورو سیمه‌ییزو هېوادونو سره پراخې کړي. روسیه هڅه کوي چې د اذربایجان، کسپین سمندر، مرکزي اسیا او افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته ټرانزېټ او سوداګرۍ وکړي. په دې برخه کې افغانستان د روسیې، مرکزي اسیا او جنوبي اسیا ترمنځ د اتصال په برخه کې دغه هېواد ته ډېر اهمیت لري. دغو ټکو ته په کتلو د افغانستان کورنی امنیت او ثبات د روسیې لپاره ځکه مهم دی چې وکولای شي له جنوبي اسیا سره خپلې سوداګریزې اړیکې په پوره ډاډ سره پیاوړې کړي. په همدې موخه د دغه هېواد د ملي امنیت شورا سلاکار د ۲۰۲۴ز.کال په نومبر میاشت کې افغانستان ته سفر وکړ (Caspian News, 2024). د دې سفر موخه د روسیې له بهرني سیاست سره سم د لوی ایروایشیا مشارکت پیاوړی کول وو؛ ترڅو د سوداګرۍ د پراختیا فرصتونه ولټوي او په اسیا کې نوې سوداګریزې لارې او ملګري هېوادونه پیدا کړي (Andrew Korybko, 2024).

**ج: د نشه‌يي توکو له کښت او قاچاق سره د مبارزې فکتور:** د افغانستان په اړه د روسیې د بهرني سیاست بل هڅونکی عامل په افغانستان کې د اسلامي امارت له لوري د نشه‌يي توکو د کښت او قاچاق مخنیوی دی. روسیه له افغانستان څخه دغه هېواد ته د نشه‌يي توکو قاچاق د خپل هېواد د ملي امنیت او ملي ګټو پر وړاندې جدي ګواښ ګڼي، ځکه دغه هېواد ته په پراخه پیمانه د نشه‌يي توکو قاچاق نه یوازې دا چې په دغه هېواد کې د نشه‌يي توکو د مصرف کچه لوړوي، بلکې د دغه هېواد پر وړاندې د ترهګرۍ د مالي ملاتړ په برخه کې هم ترې ګټه پورته کېږي او په پای کې د سیمه‌ییزې بې‌ثباتۍ او نا امنۍ لامل ګرځي.

له اسلامي امارت څخه د دولت د اساسي فعالیتونو د ترسره کولو، خوندېتوب او د تاوتریخوالي کمول د مسکو لنډمهاله غوښتنه؛ خو له ترهګرۍ او د نشه‌يي توکو له کښت

او قاچاق سره مبارزه اوږدمهاله غوښتنه ده (Ekaterina Stepanova, page 3, 2021). دا داسې مهال ده چې د اسلامي امارت له راتګ سره سم دولتي چارې ټکنۍ شوې نه دي او اسلامي امارت له ترهګرۍ سره جدي مبارزه کوي او هم په افغانستان کې د نشه‌يي توکو کښت او قاچاق په کلکه توګه بند شوی دی. د ملګرو ملتونو د نشه‌يي توکو او جرايمو اداري د څېړنو پر اساس روښانه شوې چې د اسلامي امارت د دورې پرمهال په افغانستان کې د مخدره توکو کښت ٪۹۵ سلنه کم شوی دی (UNODC, page 3, 2023).

په عملي توګه د دغو مثبتو اقداماتو ترسره کول؛ هغه څه دي چې نور هېوادونه په ځانګړې توګه روسيه يې هڅولې چې د افغانستان پر وړاندې په خپلو پخوانيو بهرنيو سياستونو او تګلارو بياکتنه وکړي او د افغانستان اسلامي امارت پر وړاندې حقيقت پالونکی او عملي بهرنی سياست غوره کړي. د يادونې وړ ده چې د تېر حکومت په شل کلن مزل کې، سره له دې چې له نشه‌يي توکو سره د مبارزې لپاره ورسره د امريکا متحده ايالاتو، روسيې، اروپايي ټولنې او د ملګرونو ملتونو اړوند بهرنيو سازمانونو بېلابېلې مرستې او همکارۍ کولې؛ خو دغه حکومت ونه توانېد چې په دې برخه بريالۍ مبارزه ترسره او د نورو هېوادونو باور ترلاسه کړي.

**د: د ستراتېژيکې محاسبې فکټور:** روسان هڅه کوي چې په نړيواله کچه د لوېديځ د تسلط او واکمنۍ د پياوړتيا مخه ډب کړي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه فرصتونه او امکانات لټوي. افغانستان چې په تازګۍ سره د لوېديځو هېوادونو په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالاتو له تسلط او استعمار څخه خلاص شوی، نو ځکه روسيه هڅه کوي چې له دغه هېواد سره اړيکې پياوړې کړي او وشي کولای له دې لارې خپل سيمه‌ييز باور زيات او د څو قطبي نړۍ رامنځته کېدو ته لاره هواره کړي.

د سنټ پترزبورګ نړيوال اقتصادي فورم د ۲۰۲۴ز.کال د جون له ۵ مې څخه تر ۸ مې پورې په روسيه کې جوړ شوی و، چې پرمهال يې «د سترې يوريشيا مشارکت، د ودې

نوی قطب: ظرفیتونه او امکانات» تر سرلیک لاندې ګردي میز کې، چې د اسلامي امارت استازي هم پهکې ګډون کړی و، د روسیې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال الکساندر پانکین وویل: «د یوریشیا لا زیات یووالي ته اړتیا ده، ترڅو د هغه نړیوال سیستم مقابله وشي چې د لوېدیځ د تسلط لپاره جوړ شوی دی». د دغه ګردي میز بل ګډونوال د یوریشیا اقتصادي کمیسیون د ادغام او لوی اقتصاد لپاره د روسیې وزیر سرګي ګلزیوف وویل: «اړتیا ده چې یو نوی نړیوال نظم رامنځته شي چې مرکز یې په آسیا کې وي». (Center for Information Resilience, 2024). د روسي چارواکو له دا ډول څرګندونو معلومېږي چې دغه هېواد د لوېدیځ په ځانګړې توګه د امریکا متحده ایالاتو پر وړاندې د نړۍ نور هېوادونه هڅوي چې د یوریشیا، اسیا او د دریمې نړۍ په مرسته یو نوی قطب رامنځته او رهبري کړي؛ په همدې موخه هڅه کوي په سیمهییزه کچه د هغو ګواښونو د مخنیوي په برخه کې چې د پورته موخو د ترلاسه کولو پر وړاندې خنډ ګرځي، له نورو هېوادونو په ځانګړې توګه له اسلامي امارت سره یې په اړه له نږدې همغږي وکړي؛ دغه ټکی د دې لامل شوي چې د افغانستان په اړه د دغه هېواد د بهرني سیاست توجه زیاته شي.

د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په تړاو بیا د دغه هېواد بهرنی سیاست د نړیوالو قوانینو له نظره د نویو حکومتونو د رسمیت پېژندنې اړوند توبار نظریې څخه اغېزمن دی. د دې نظریې پر اساس د نویو رژیمونو د رسمیت پېژندنې معیارونه باید ډیموکراتیک ماهیت نه، بلکې د دولت ثبات او په خپله خاوره د کنترول کچه وي. (Muhammad Faheem and Minhas Majeed Khan, page 58, 2022) که څه هم د رسمیت پیژندنې په برخه کې هر هېواد خپلو بهرنیو پالیسیو او سیاسي ګټو ته پاملرنه کوي؛ خو د نړیوالو حقوقو په رڼا کې داسې ښکاري چې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په برخه کې روسیه د توبار نظریات پلي کوي او پر افغانستان د اسلامي امارت د بشپړ کنټرول او د دولت ثبات دغه هېواد هڅولی چې له اسلامي امارت سره له نږدې اړیکې وپالي او ان تر دې چې د سفیر منلو ترکچې د اړیکو کچه لوړه کړي.

**پایله**

د هېوادونو بهرنی سیاست ثابت نه پاتې کېږي؛ بلکې د کورنیو، سیمه‌ییزو او نړیوالو ګټو او ګواښونو پر اساس بدلېدونکی ماهیت لري. د افغانستان پر وړاندې د روسیې د بهرني سیاست بدلون د پورته واقعیت غوره بېلګه په ګوته کوي. د اسلامي امارت د لومړۍ واکمنۍ پرمهال روسیې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ له لویدیځ اتحاد سره په همغږۍ بهرنی سیاست غوره کړی و. کله چې د لویدیځ اتحاد د افغانستان د امنیتي معادلو په مدیریت کې ناکام شو او د داعش په ګډون نوي امنیتي ګواښونه رامنځته شول؛ نو دغه هېواد د افغانستان په اړه په خپل بهرني سیاست بیاکتنه وکړه. دغه هېواد ومنله چې په افغانستان کې د امریکا شتون نه یوازې د سیمې پر امنیت مثبتې اغېزې نه دي کړې؛ بلکې ترهګرۍ، د مخدره توکو تولید او قاچاق او جیوپولټیکي بې‌ثباتۍ ته لا ډېره زمینه برابره شوه. له همدې کبله، روسیې د افغانستان اسلامي امارت د واقعیتونو او شریکو ګټو پر اساس د غوره فرصت په توګه ومانه او ورسره یې د تدریجي ښکیلتیا سیاست غوره کړ. دغه بدلون د اسلامي امارت له لوري له ترهګرۍ سره د اغېزناکې مبارزې، د نشه‌یي توکو د کښت او قاچاق کمښت، د مرکزي حکومت د ثبات او د نورو هېوادونو پر وړاندې د افغانستان د خاورې د نه کارولو د ژمنې عملي کولو له امله رامنځته شو. په ټوله کې د اسلامي امارت پر وړاندې د روسیې بهرنی سیاست له یوې خوا د دغه هېواد د امنیتي او اقتصادي محاسباتو پایله ده او له بل لوري د نړیوالو معادلو د توازن او د لوېدیځ د تسلط او نفوذ د پیاوړتیا د مخنیوي یوه تګلاره ده او دغه تحول ښیي، چې دغه هېواد اسلامي امارت د یوه مهم سیمه‌ییز لوبغاړي په توګه قبول کړی او د متقابل درناوي، مشارکت او د دوه‌اړخیزو ګټو پر بنسټ د اړیکو د پیل نوی څپرکی پرانېزي. له همدې امله یې د اسلامي امارت پر وړاندې خپل بهرنی سیاست د دښمنۍ له محور څخه د دوستۍ محور ته اړولی دی.

**وړاندیزونه**

۱ ـ دا چې روسیې ته د ګڼو عواملو له مخې په افغانستان کې امنیت او ثبات مهم دی؛ نو اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د امنیت د پیاوړتیا په موخه د دغه هېواد هراړخیزې مرستې راجلب کړي او دا مرستې په داسې شکل ترسره شي چې د نورو هېوادونو د اندېښنې لامل ونه ګرځي.

۲ ـ اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې روسیه قانع کړي له افغان بزګرانو سره د کوکنارو د بدیل کښت په برخه کې اقتصادي او زراعتي مرستې وکړي.

۳ ـ اسلامي امارت دې له روسیې سره اقتصادي، ټرانزیټي او د انرژۍ لېږد برخه کې تماسونه زیات کړي؛ ترڅو افغانستان د سیمې د هېوادونو د وصل واقعي نقطه وګرځي او په دې برخه کې پر افغانستان د نورو هېوادونو فشار کم شي.

۴ ـ اسلامي امارت دې هڅه وکړي چې د روسیې په مرسته د دغه هېواد تر نفوذ لاندې هېوادونو سره خپلې اقتصادي او سیاسي اړیکې پراخې کړي.

**ماخذونه:**

1. فردوس، عبدالخالق. ۱۴۰۲، د شوروي اتحاد رامنځته کېدل او ړنګېدل؛ پر سیمه او افغانستان يې اغېزې (۱۹۱۷ ـ ۱۹۹۱ز.کال)، د افغانستان د علومو اکاډمی، علمي ـ څېړنیزه رساله، ناچاپ.

2. Afghanistan opium survey 2023, UNODC Research brief, page 3, published date: November 2023, available at: https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afghanistan_opium_survey_2023.pdf

3. Ali Akbar Jokar, Russia’s Multipronged Policy in Afghanistan, published date: 30 January 2021, available at: https://www.ipis.ir/en/newsview/626367/russia%E2%80%99s-multipronged-policy-in-afghanistan

4. Andrew Korybko, Russia’s grand geo-economic plan a step closer in Afghanistan, Asean times, published date: November 27, 2024, available at: https://asiatimes.com/2024/11/russias-grand-geo-economic-plan-a-step-closer-in-afghanistan/#

5. Claudia Chia, Zheng Haiqi. Russia’s Policy Overtures in Afghanistan, Institute of south Asia studies, published date: 3 November 2021, available at: https://www.isas.nus.edu.sg/papers/russias-policy-overtures-in-afghanistan/

6. CNN, March 25 Moscow concert hall attack, , published date: Mon March 25, 2024, available at: https://edition.cnn.com/europe/live-news/russia-attack-moscow-03-25-24/index.html

7. Ekaterina Stepanova, Russia’s Approach to Afghanistan Following the Taliban Takeover, Institute of World Economy and International Relations, Russian Academy of Sciences, page 2, published date: November 2021, available at: https://www.researchgate.net/profile/Ekaterina-Stepanova-15

8. Forging New Paths: Russia and Taliban's Growing Cooperation, Center for Information Resilience, published date: Jun 19, 2024, available at; https://www.info-

res.org/afghan-witness/reports/forging-new-paths-russia-and-talibans-growing-cooperation/

9. Hakim, bibi Amina, $174M Worth of Trade With Russia in Past 8 Months: Ministry, Tolo News, published date: 26 NOVEMBER 2024, available at: https://tolonews.com/afghanistan-191850

10. Muhammad Faheem and Minhas Majeed Khan, Recognition of the Taliban Government in Afghanistan and International Community, Institute of Strategic Studies Islamabad. Strategic Studies, published date, 2022, Volume 42, Issue No 1, page: page 85, pdf, available at: https://strategicstudies.org.pk/index.php/strategic_studies/article/view/14

11. Press release on suspending the terrorist status of the Taliban movement, the ministry of foreign affairs of Russia federation, published date: 17 April 2025, available at: https://mid.ru/en/foreign_policy/news/2009744/

12. Rajorshi, Roy. Deciphering Russia's Afghan Policy, Manohar Parrikar Institute for Defence Studies and Analyses, published date: August 31, 2021, available at: https://www.idsa.in/publisher/comments/deciphering-russias-afghan-policy/

13. Rise to peace, The Evolving Russian-Taliban Relations, 2021, available at: The Evolving Russian-Taliban Relations - Rise to Peace

14. Russia's Shoigu Visits Kabul, Seeks Stronger Ties with Taliban-Led Afghanistan, Caspian News,published date: November/27/2024, available at: https://caspiannews.com/news-detail/russias-shoigu-visits-kabul-seeks-stronger-ties-with-taliban-led-afghanistan-2024-11-26-0/

15. The Concept of the Foreign Policy of the Russian Federation, the Minister of Foreign Affairs of Russian Federation, published date: 31 March 2023, available at: https://mid.ru/en/foreign_policy/fundamental_documents/1860586/